Hessisches Ministerium
für Soziales und Integration

HESSEN

د هیسن دټولنیزو چارو

اومیشت کیدو وزارت

پاس ښي خواته د هیسن

حکومتي نښان

د اپریل میاشتې ۲۹، ۲۰۲۰ ع کال

دهیسن د ټولنیزو چارو او میشت کیدو وزارت له خوا کرونا ویروس په هکله مالومات:

مورږ تاسي ته په لاندي ډول د یو څه مالومات سره هغه سرچیني در په ګوته کو چي په مرسته یي د کورونا ویروس په هکله تازه په روان مالومات تر لاسه کولی شی.

د ۲۰۱۹ کال په وروستیو کي دروغتیا نړیوال سازمان ته مالومه شوه چي په وهان ( چین) کي دسږو یوه داسي ناروغي مخ په ډیریدو دی چي لامل یي لا نه دی ښکاره.څو ورځي وروسته یو نوی ډول ویروس د دي ناروغی دلامل په توګه وپیژندل شو. دویروس نوم زار- کو- ۲ دی او هغه ناروغي چي له دي ویروس را پیدا شوي ده د کوید- ۱۹ په نامه یادیږي چي نن سبا په ټوله نړۍ کي خپریږي

په ور پسي مخونو کي لاندې مالومت میندلی شی:

۱ – دکورونا ویروس په هکله عمومي مالومات

۲ – زه په خپله دخپل ځان دساتني له پاره څه کولی شم تر څوروغ پاتي شم؟ او دناروغی دنښو او نښانو د راحرګندیدو په وخت څه باید وکړم؟

۳ – په هیسن کي دماسک دمکلفیت په هکله مالومات

۴ – په هیسن کي دواټن دنیلو په هکله مالومت

۵ – په هیسن کي دتګ او راتګ او هیسن ته دراتلو په هکله مالو مات

۶ – په هیسن کي عبا دت ځایونو ته دورتګ او په جنزو او فاتحوکي دګډون په هکله نالومات

۷ – په هیسن کي دزیږیدني اویا دمړیني په وخت کي دکورنیو دګډون په هکله ماتومات

۸ – په هیسن کي دارو کوچنیانو دروزنې او پالنې په هکله مالومات

له ۱۰خخه ۱مخ

دهیسن دټولنیزو چارو

او میشت کیدو وزارت

پاس ښي خواته د

هیسن حکومتي نښان

۱ – عمومي مالومات:

روان حالت څه ډول دی؟

د روبرت کوخ انستیتوت په منظمه توګه په المان کي د وګړو دروغتیا له پاره د دې نوي ویروس مانا ارزوي. دا انستیتوت دګواښ هره نوې ارزونه په لاندی پته خپروي:

https://www.rki.de/DE/Content/InfAZ/N/Neuartiges_Coronavirus/Risikobewertung.html;jsessionid=9766CE9E961256ECB36D5D17A325E8F4.internet062

دهیسن له پار ه د دې ایالت حکومت دالاندي پریکړه کړی ده:

د دې له پاره چې لړ ترلږه د کورو نا ویروس دچټکې پر مختیا مخه ونیول شي او انسانان له خطر سره مخامخ نه شي لازم ګڼل کیږي چې په عامه او هم شخصي محضرکي خپلې اړیکي دامکان تر حده پورې لږې کړو. په دې هکله نور مالومات په راتلونکو مخونو کي دماسک دمکلفیت او له نورو وګړو څخه د واټن دساتلو په هکله مالوماتو څخه تر لاسه کولی شی.

په هیسن کي د کورونا ویروس په هکله نور مالومات په څه ډول تر لاسه کولی شم؟

تاسې تازه مالومت د هیسن د ټولنیزو چارو او میشت کیدو وزارت دویب سایت له لارې په دې لاندې لینک تر لاسه کولی شی:

www.hessenlink.de/2019ncov.

د هیسن دټولنیزوچارو او میشت کیدو وزارت دهیسن د وګړو او اوسیدونکو له پاره وړیا مالوماتي لینونه جوړ کړي دي.

دکورونا ویروس په هکله د در ملي او روغتیایي پو ښتنو له پاره لاندې نومره پرانستل شوې ده:

0800 555 4 666

Hessisches Ministerium
für Soziales und Integration

HESSEN

دا لمبر هره ورځ دسهار له ۸ دماښام تر ۲۰ بجو پورې چالان دی.

د هيسن اوسيدونکي دخپلو
پو ښتنو له پاره د دې ايالت دروغتيا رياستونو ته مخ اړولی شي. داړيکو امکانات دلته ميندلی شي:

https://tools.rki.de/PLZTool/.

له ۱۰حخه ۲ مخ

دهيسن دټولنيزو چارو

او ميشت کيدو وزارت

پاس ښي خواته د

هيسن حکومتي نښان

۲ – دځان دساتنې له پاره څه کولی شم تر څو روغ پاتې شم؟

له ټولو هيوادوالو په کلکه غوښتل کيږي چې د دې ولګي(ګريپ) په وړاندې دځان ساتنې له پاره دپاکی دا لاندې مقررات په نظر کې ونيسي:

- ټول ( کوچنيان او ځوانان هم ) بايد خپل لاسونه ډير ځله او په اساسي توګه ومينځي.

-ټول (کوچنيان او ځوانان هم) بايد دټوخي او پرينجي په وخت کې کاغذي جيبي دسمال او يا ړاستونی خولې او پزې ته ونيسي.

-يوځل کارول شوی دسمال بايد بيا ونه کارول شي اوبايد تر کارولو وروسته دخځلو په ټوکری يا بيلر کې واچول شي.

-دلاس ورکولو، په غيږه روغبړ او دښکلولو څخه ډ ډه وکړی.

-لاسونه دخولې، پزې او سترګو سره ونه لګوی( په تيره بيا هغه وخت چې په سرويس او په کورکې مو له هغودستګيرونو سره لاسونه ولګيږي چې دنورو خلکو لاسونه هم ورسره په تماس کې شوي وي)

-تليفونونه، موبايلونه او تابليتونه موپه ويروس وژونكو موادو په منظم ډول پاكوی.

-دخپلو ځانګړو ګيلاسونو او دخوړو له لوښو څخه كار اخلی.

-په غونډو كې له ګډون كولو نه په كلكه ځان وسا تی.

د ناروغی دنښو دراڅرګنديدو په وخت كې بايد څه وكړو؟

كه چيرې په هيسن كې داوسيدونكو څخه په چا كې د دې ناروغۍ نښې لكه توخی، تبه او يا دسا ايستنې مشكل را څرګند شي نوبايد دې لاندې نومرې ته تليفون وكړي:

116_117

( دا دروغتيايي خدمتونو دنوكريوال دتليفون لمبر دي)

يا به دروغتيا سيمه ايز دفتر ته تليفون وكړي او هم كولی شي چې كور نی ډاكترې او يا كورني داكتر سره تليفو ني اړيكې ونيسي.

دوی بيا په خپل وار پوښتونكي ته وايي چې ايا دانښې دكورونا د نوی ويروس په ناروغی دلګيا كيدو احتمال ښيي او كه نه اود مستدل ګمان په صورت كې نور تشخيص او درملي پيل كوي.

په دې هكله زيات مالومت په نورو ژبو هم له دې لارې تر لاسه كولی شی:

https://wwwbundesgesundheitministerium.de/coronavirs.html

نن سبا په ټولنيزو رسنيو كې ډير غلط مالومات خپريږي نوځكه بايد خپل مالومات له هغو سرچينو ترلاسه كړی چې په دې ليكنه كې درته په ګوته شوي دی.

له ۱۰ څخه۳ مخ

دهيسن دټولنيزو چارو

او ميشت كيدو وزارت

پاس ښي خواته د

هیسن حکومتي نشان

۳ – په هسشن کې د ماسک مکلفیت:

د ۲۰۲۰ کال د اپریل میاشتې له ۲۷ څخه را په دې خوا د هیسن اوسیدونکي مجبور دي چې عامه ترافیکي وسیلو ته دور ختو، مغازو، اونیزو مارکیټونو، بانکونو او پستخانو ته د ور ننوتلو په وخت کې خوله او پوزه په یوڅه(ماسک) پټه وساتي. دا دهغه چا له پاره اعتبار لري چې عمر یې ۶ کاله اویا تر هغه زیات وي.

د خولې او پزې ساتنه څه شی دی؟

خوله او پزه په هغه څه ساتل کیږي چې دخپل ځانګړي جوړښت له مخې، بیله دې چې په دې برخه کې یې دازمویني نښان په نظر کې ونیول ښي، دټوخي، خبرو او پرینجي په وخت کې دخولې او یا پزې له لار دڅاڅکو د خپریدو اوبل چاته دهغوی دور انتقالیدو اندازه را ټیټه کړي. په دې کې په خپل لاس دجوړ شوي ماسک تر څنګ دغاړې او جیب دسمالونه هم شامل دي.

مسلکي - در ملیزماسکونه روغتیایي کار کوونکو ته په نظر کې نیول شوي دي

## له بل چا واتن نیول لا هم اهمیت لري

عادی ورځنی ماسک داړیکو دکمولو او له نورو څخه د واټن دساتلو ځای نشي نیولی او ارزښت یې نشي کمولی.

استثنا.

دماسک په اچولو مکلفیت دهغو کوچنیانو له پاره، چې عمر یې ۶کالو ته نه وي رسیدلی او هم دهغو ناروغانو او معیوبانو له پاره چې دور پیښنو ناروغیو له امله دماسک داچولو توان نه لري، اعتبار نه لري.

نغدې جزا:

دماسک نه اچول دمقرراتو سره دمخالفت په مانا دی. چا چې ماسک نه وي په مخ کړی او که یوځل ور ته وویل شي بیایې هم په مخ نه کړي نو د دې تکراري کړنې په وړاندې ۵۰ ایرو جریمه کیږي.

له ۱۰ څخه ۴ مخ

دهیسن دټولنیزو چارو

او میشت کیدو وزارت

پاس ښي خواته د

هیسن حکومتي نشان

۴ – دواتیٖ په هکله مالومت:

په عامه ځایو کې د تم کیدو اجازه هغه ځوک لري چي یوازې وي یاد هغه خپلوانو سره یو ځای وي چي په یوه کور کې ور سره اوسیږي اویا دیوه هغه شخص سره چي به یوه کور کې نه دور سره اوسیږي. له دې پرته د نور چا سره دمخامخ کیدو په صورت کې باید له هغه څخه لږ تر لږه یو نیم متر واټن وساتل شي. دسلوک هغه عام شوي ډولونه چي پکي له یو بل څخه یو نیم متر واټن نشي ساتل کیدای، لکه میلې، جشنونه اونور، بیله دې چي دګډون کوونکو شمیر یې په نظر کې ونیل شي، منع دي.

لاندې حالات استثنایي دي:

- د لنډ واټن عامه ترافیکي وسیلو کې تګ راتګ

- دکم سنه او دمحتاجو اشخاصو برګه ا وپالنه

- په ازموینو په تیره بیا په دولتي اوارتقايي ازموینو کې ګډون

- دویني ور کول

- دهغو اشخاصو یو ځای کیدل چي دتجارتي، مسلکي، خدمتي اوپالنیزومشغولیتونو له امله یو ځایي کار ته اړ دي

- دمحکمي ناسته اودهغې بهیر

- د مقاماتو داستثنایي اجازې په صورت کې په فا تحو او جنازو کې ګډون

۵ ـ دمسافرت نه دراګرځیدونکو اودلته دراتلونکو له پاره مالومات:

دمسافرت نه راګرځیدونکي او دلت په سفر راتلونکي: راګر ځیدونکي دبیلګي په توګه درخصتي سفر نه بیر ته را ګرځیدونکي څه باید په پام کې ونیسي؟

د دې له پاره دلته په سفر راتلونکواو یا دسفر نه دبیرته را ستنیدونکو له لارې ناروغي به چټکتیا سرایت ونه کړي، ټاکل شوده چې د۲۰۲۰ کال داپریل دلسمې نیټي را په دې خوادا خلک د۱۴ ورځو له پا ره په کور کې کوښې واوسي. په مقرره کې سر بیره پر دې راغلي دې چې له بهر څخه هیسن ته راتلونکې او را ګرځیدونکې باید درارسیدو سره سم زر تر زره داستوګنې په سیمه کې واک لرونکې روغتیایي مر کز سره اړیکې ونیسي او دراتلو په هکله مالومات ور کړي. دوی سربیره پردې مکلف دي چې د کوید-۱۹ ناروغۍ دنښو دراڅر ګندیدو په صورت کې تر هر څه دمخه دروبرت کوخ انستیتوت دمعیارونو سره سم دروغتیا له ځایي مر کز سره په تماس کې شي. ځانګړي اشخاص اومسلکي ګرو پونه ، په تیره هغه څوک چې دخلکو داړتیا وړ موادو په برابرولو، دترانسپورتي وسیلو په چلولو او سنبالولو او روغتیایي سیستم کې دندې لري او په هم دې ډول پولیس له دې امره مستثنا دي. څوک چې له هیس نه دباندې دي، یا له هیسن څخه ترانزیتي تیریږي او دلت لنډ تم کیږي هم له دې مقررې څخه مستثنا دي. موسمي کار کوونکي هم دځانګړو شرا یطو لان دې له قرنطین نه ازاد دي .

۶ – دعبادت ځایونو، فاتحو او جنازو ته د ور تګ په هکله مالو مات:

له ۱۰ څخه ۵ مخ

دهیسن دتولنیزو چارو

او میشت کیدو وزارت

پاس ښې خواته د

هیسن حکومتي نشان

واټن په پام کې نیول او دپاکې ساتلو دا امکان رامنځ ته کړ چې عبادت په ځای شي او د مذهبي مراسمو له پاره سره راټول شو. که څه هم دا مراسم په هغه چوکاټ کې نه شي تر سره کیدای چې معمول وي، خو سره له دې هم کیدای شی چې خلک بیا ګډ عقیدوي ژوند پیل کړي او د قربانۍ عبادت او دمانښام دوروستې ډوډۍ په یاد سره را ټول شي.د مې دځلورمې نیټې نه را په دې خوا دعبادت او دعبا دت له پاره درا ټولیدو امکان پیدا شو، خو په دې شرط چې:

- ګډون کوونکي په خپلو کې یو تر بله یو نیم میتر واټن وساتي ( هغه څوک چې په یوه کور یا اپارتمان ګډ ژوند کوي له دې امر نه مستثنا دي)

- ځنې شیان دبیلکې په توګه شریکه تو کرۍ له چا ونه منل شي او ور پسې بل چاته ور نه کړای شي

- دپاکی او نظافت ساتنې له پاره لازمي چارې ترسره شي او ضد عفونی موادو ته لاسرسی تضمین شي

- سربیره پر دې عقیدوي ټولنه مجبوره ده چې دضروري واټن کرښه دراټولیدو په ځای کې ښکاره په نښه کړي او دنظافت دساتنې له پاره لازمي چارې سر ته ورسوي.

په فاتحو او جنازوکې ګډون کول هم تر هغه شرا یطو لاندې امکان لري چې دلته دعبادت په برخه کې په ګوته شول.

۶ – دکور نی له خوا دزیږیدنې اویا د مړینې جریان دبدرګې په هکله مالومات:

د۲۰۲۰کال دمارچ له ۲۸ نیټې دشنبې ورځې را په دې خوا، د، تردې وخت پورې دجاري مقرراتو په استثنا، دکورنی نږدې غړو ته په ځانګړی حالت کې دکتنې اجازه ور کول کیدای شي. د موسیسو، د بیلګې په توګه دروغتون مشرتابه، کولی شي چې، که مسلکي معالج ټیم یې داخلاقي او ټولنیزو دلیلونو له مخې لازم وګڼي، دکورنی نږدې خپلوانو ته، په تیره بیا دزیږیدو او دمړینې د بدرګې امکان ور کړي. هغه څوک چې دسا ایستنې سیستم په ناروغی لګیا وي له دې استثنایي امر نه ګټه نشي اخیستلی.

داد کورونا ویروس په خلاف د دوهمي لایحې یو استثنایي مطلب دی.

له ۱۰ څخه ۶ مخ

دهیسن دټولنیزو چارو

او میشت کیدو وزارت

پاس بني خواته د

هیسن حکومتي نشان

۸ – دکوچنیانو مراقبت په هکله مالومات:

په دې بریالي شوو چې په هیسن کې دویروس خپریده په ورو کړو.هدف مو بیا هم دادی چې ټول وګړي، په تیره بیا زاړه اوناروغان دامکان تر حده له دې ویروس نه بښه خوندي وساتو. نو ځکه باید تر څو چې امکان لرې په دې ویروس د نوي ککړیدنې مخه ونیسو. دې موخې ته درسیدو له پاره تر ټولو اغیز ناک کار دا دی چې له نورو سره شخصي اړیکې کمې کړو. دا نور ټول بند یزونه په حقیقت کې همدې اصل ته درسیدو له پاره تر سره کیږي. نوځکه بیا هم باید کوچنیان د ۲۰۲۰ کال دمی تر ۱۰ نیټې پورې وړکتون او دکوچنیان مراقبتځایو ته لاړ نه شي. دکوچنیانو اړین مراقبت به دوام کوي او

اړین ګرو پونه به یې ډیر شي، خو په ویروس دککړیدو څخه دسا تني له پاره داګروپونه با ید کوچني پا تې شي او که نه دا اقدامونه خپل اهمیت اود ارزښت وړ اغیزې له لاسه ور کوي.

تر څه وخت پورې به زما کوچنی اولاد وړکتون ته دورتک اجازه نه لري؟

اوس اوس دمی تر لسمي نیټې پورې.

دورځنی مور له خوا زما دکوچني ساتنه نوره هم دوام کولی شي؟

نه، مقرره دکوچنیانو د مراقبتځایو له پاره هم اعتبار لري. د کوچنیانو میندې او پلارونه مجبور دي

چې دساتني او پالني له پاره وړکتونونو او مراقبتځایونو ته دکوچنیانو دور وستلو دمخنیوي مقرره په پام کې ونیسي.

ایا استثنا شته؟

هو، دشغل او اشخاصو دځني ګرو پونو له پاره ضروري مراقبتځایونه شته دي، شرط یې دادی چې مستحق یا مستحقه په لاندې برخو کې په دنده لګیا وي:

۱ – دپولیسو داجرایوي خدمت متعلیقین،هغه چې دایالت دپولیسو په ریاستونوکې اویا کومه اجرایوي دنده لري.

۲ – داطفایي رسمي او افتخاري کار کوونکي

۳ – دعامې روغتیا ساتني دلوړ پوړو نارینه اوښځینه مقاماتو همکاران او همکاراني

۴ – ښځینه او نارینه قاضیان، ښځینه او نارینه څارنوالان او دقضا لوړ پوړي ښځینه او نارینه ماموران

۵ – دهغه مؤسسو قضایي اودروغتیا مسلکي کار کوونکي چې په روحي ناروغی او نیشه یې توکو اخته جنایتکاران پکې ځای په ځای شوې وي

۶ – دنجات ورکوونکو خدمتونو کار کوونکي

۷ – دتخنیکي مرستود مؤسسو ښځینه او نارینه کار کوونکي

۸ – دورانوونکو پیینو نه دساتني مؤسسو ښځینه او نارینه کار کوونکي

۹ – دروغتیا یي سیستم: دکلینیکونو، روغتونونو،دزړو دمراقبت مؤسسواو دامبولاسي مراقبت اودساتني خدماتو کار کوونکي

۱۰ – هغه څوک چې په طبي او مراقبتي مسلکونو کې کار کوي، په تیره بیا،

- دزړو ښځينه او نارينه مراقبت کوونکي

- دزړو دمراقبت کوونکو ښځينه اونارينه مرستيالان

له ۱۰ خخه ۸ مخ

دهيسن دټولنيزو چارو

او ميشت کيدو وزارت

پاس ښي خواته د

هيسن حکومتي نشان

- دبې هوشه کولو ښځينه اونارينه تخنيکي مرستيالان

- ښځينه او نارينه ډاکټران

- د درملتون ښخينه او نارينه کار کوونکي

- دناروغی دسرايت نارينه اوښځينه مسلکی کار کوونکي

- دروغتيا او کوچنيانو ښخينه او نارينه مراقبت کوونکي او سا تونکي – دروغتيا او ناروغانو مراقبت کوونکي اوساتونکي

- مسلکي قابله

- دناروغان دمراقبت کوونکو ښځينه او نارينه مرستيالان

- دلابراتوارونو طبي او تخنيکي نارينه او ښځينه مرستيالان

- طبي-مسلکي ماموران

- دراډيولوژي طبي او تخنيکي ښځينه اونارينه مرستيالان

- دبدن دغړو د دندې دتشخيص طبي او تخنيکي ښځينه او نارينه مرستيالان

- د بیرنیو او لومړنیو مرستو کار کوونکي

- دعملیاتو نارینه اوښځینه تخنیکي مرستیالان

- دمراقبت له پاره مسلکي ښځې/ مسلکي سړي

- دفارمسي له پاره ښځینه اونارینه تخنیکي مرستیالان

- دنجات ور کوني دمرستیالانو قانون د لومړی مادې له مخې دنجات ور کوني نارینه او ښځینه مرستیالان

- دغاښو نارینه او ښځینه ډاکتران

- دغاښو د در ملي په برخه کې مسلکي ماموران

- د روحي درملی ښځینه او نارینه در ملګر او دکوچنیانو او ځوانکیو دروحي در ملی نارینه او ښځینه در ملګر

۱۱ الف – د هیسن د کوچنیانو او ځوانکیو قانون د۲۵مې مادې له مخې دکوچنیانو له پاره دورځنیو تأسساتو مسلکي کار کوونکي

۱۱ب – هغه څوک چې اصلي - مسلکي دنده يې دروحي او ټولنیزې ناخوالې په وخت او غیر مترقبه حالت کې اړو ته تسکین، مشوره ورکول اوله هغوسره مرسته کول وي، په تیره بیا هغه څوک چې په غیر مترقبه حالت کې دروحي تسکین په برخه کې اویا په اضطراري حالت کې مخابراتي ( تلیفوني) دنده ولري او په همدې توګه دجنسي تیریو دقربانیانو دبنسټونو په تیره بیا دښځو خونو او دهغوی دساتني اپارتمانونو مسلکي کار کوونکي

۱۱ ج – هغه څوک چې دهیسن دجنجالي حاملګې دقانون سره سم دجنجالي حاملګی په یوه رسمي- پیژندل شوي مقام کې دمشورې ورکولو دنده تر سره کوي

له ۱۰ خخه ۸ مخ

دهیسن دټولنیزو چارو

او میشت کیدو وزارت

پاس ښې خواته د

هیسن حکومتي نشان

۱۱د- د دولت له خوا دکوچنیانو او ځوانکیو سره دمرستي په چوکات کي دعامو ټولنیزو خد متو کار کوونکي

۱۲ – هغه ځوک چي دالمان د ټولنیز قانون کتاب د دوهم ، دریم او اتم جلد ، دپنا غوښتونکو سره دمرستي قانون له مخي په مستقیم ډول دپیسو په ور کولومشغول دي

۱۳ – هغه ځوک چي دعامه اړتیاوو پوره کولو په برخه کی کار کوي اوکارته یي داړتیا خاص تصدیق ولرې ، دبیلګي په توګه دخوراکي توکو دتجارت، دکرني،ترانسپورت او دخوراکي توکو دانتقالولو کار کوونکي.

۱۴ – دصفایي سکتورکار کوونکي، په دوی کي دروزني مستحق باید داسي خاص تصدیق ولري چي مشغولیت ته یي دکار په ځای کي دچا پیریال دسا تني له پاره ډیره اړ تیا لیدل کیږي

۱۵ – درسنیو، دراډ یو، تلویزیون او نورو تلیفوني رسنیو اصلي او رسمي کار کوونکي( دوی باید دخپل کار ور کوونکي له خوا داسي تصدیق ولری چي مشغولیت یي دکار په ځای کي داړوند مؤسسي دفعال ساتلو له پاره زیات ضرور دی

۱۶ – دالمان داردو هغه ښځینه اونارینه سرتیري او همکاران چي شته والی یي ماموریت ته تیاري ډاډ منه کوي اود اردو دروانو ماموریتونو دتر سره کولو له پاره ضرور وي

۱۷ – دښوونځي مشرتابه، ښوونکي او مراقبتي ځواکونه چي نیغ په نیغه د ښوونځي په سازماني، درسي اونورو اړوند چارو لګیا دي

۱۸ – هغه ځوک چي یوازي ژوند کوي، کار هم کوي او دکوچني روزنه یي هم په اوږو بار وي(هغه ځوک چي دیوه او یا زیاتو کوچنیانو سره یو ځای اوسیږي او دروزني او مراقبت چار ې هم ور په غاړه وي)

۱۹ – د وړکتون مسلکي ځواکونه کولی شي خپل کوچنیان وړکتون ته په دي شرط له ځان سره بوزي چي په هغو مقرراتو عمل وکړي چي دکورونا ویروس دخپریدو د مخنیوی په غرض وضع شوي دي.

د وړکتون دروازه دهغه کوچني پر مخ نه تړل کیږي چي دځوانانو اړوند دفتریي د هغه دډادمني سوکالي او هوسایي له پاره ضرور وګني، دا کوچنیان وړکتون ته دورتګ اجازه لي

اړ وند مؤسسه کولی شي چي هغه تصدیق وغواړي چي له مخي یي په پورته بیان شوو ګرو پونو پورې اړیکي ثبوت کیدلی شي. دشک په صورت کي به دعامه نظم مقام پریکړه کوي.

Hessisches Ministerium
für Soziales und Integration

HESSEN

له ۱۰ څخه ۹ مخ

دهيسن دټولنيزو چارو

او ميشت کيدو وزارت

پاس ښي خواته د

هيسن حکومتي نشان

د پام وړ: دا استثاوې هغه وخت بې اعتباره کيږي چې په کوچني اويا دهغه دکور په کوم بل غړي کې:

- دناروغی نښې او نښاني راښکاره شي
- هغه په ويروس ککړ شخص سره په تماس کې شوی وي او دتماس وروسته ۱۴ ورځې لا نه وی تيرې شوي ( دادهغه کوچنيانو له پاره اعتبار نه لري چې مور يا پلار يې په روغتيايي موسسو کې د دندی دترسره کولو په وخت کې په ويروس ککړو اشخاصو سره په تماس کې شوي وي)
- هغه څوک چې د۲۰۲۰ کال داپريل مياشتي تر ۱۰ وروسته دځمکي، اوبو او يا دهوا له لارې دالمان نه دباندې دکوم بل دولت نه دلته په سفر راغلي وي
- وړاندې په هغه سيمه کې تم شوی وي چې د۲۰۲۰ کال د اپريل له ۱۰ نيټي مخکې درووبرت کوخ انستتوت له خوا په سار-۲ ويروس دککړيدو دخطرناکې سيمي په توګه تشخيص شوې وي او سفر دخطرناکې سيمي په توګه دتشخيص کيد له نيټي وروسته تر سره شوی وي اويا:
- دخطرناکې سيمي په توګه دتشخيص له نيټي وروسته د۱۴ ورځو په جريان کې المان ته راغلی وي.
دالمر دراتګ نه وروسته د۱۴ ورځو له پاره اعتبار لري. هغه ميندې او پلارونه چې پورته بيان شوي استثنايي شرايط ونه لري او يا په ويروس دککړيدنې دمخنيوي په معيارونو برا بر نه وي، بياهم خپل کوچنيان وړکتونونو او دکوچنيانو مراقبتخونو ته ورولي، په حقيقت کې دمقرراتو په خلاف عمل کوي